# ختيځه اروپا؛ د سوسياليزم او سرمايه دارۍ پرتله

## (جانباز شرافت)



د ختيځي اروپا پخواني سوسياليستي هيوادونه، چي زيات و کم نيمه پېړۍ د سوسياليزم په مناسباتو کي اوسېدلي ول او د ۱۹۹۰ کلونو د بدلونونو سره يې، يوه پلا د نيو ليبرال بازار اقتصاد ته مخه سول؛ د بحث، پرتلي او محاسبي لپاره ډېر څه لري. په دغو هيوادونو کي د سوسياليستي اقتصاد څخه، پانګه والۍ ته اوښتون خلګو ته خورا لوی مادي او معنوي زيانونه واړول، چي امپرياليزم پوري تړلي سياستوال، رسنۍ او روښانفکران يا نه په پوهېږي، يا سترګي باندي پټوي او يا يې هم پړه بيرته پر کمونستانو اړوي. په ختيځه اروپا کي د سوسياليزم څخه پانګوالۍ د اوښتون اغېزې او زيانونه خورا ډېر دي، چي دقيقو محاسبو او څېړنيو ته اړتيا لري. په دې ليکنه کي د دغه اوښتون د ناوړه اغېزو يوه کوچنۍ برخه را اخلو:

هغه مهال چي، د پخواني شوروي اتحاد سور پوځ، د نازيانو په تعقيب پسي د برلين تر ختيځو سيمو ورسېدئ؛ د شرقي اروپا کمونست ګوندونه، چي ټولو د نازيانو پر وړاندي په ګوريلايي جګړو کي برخه اخيستي وه، د نوي خلقي دولتونو د جوړولو په لټه کي سول، خو د اروپا هغه سيمي چي امريکايانو او انګرېزانو د نازيانو د شتون څخه تصفيه کړي وې؛ هلته په ټينګه سره ددې کار مخه ونيول سول او د هغوی هڅه دا وه، چي بياځلي پخواني سلاطين او تښتېدلي پاچاهان واکمنۍ ته وګرځوي. ددې يوه ښه بېلګه يونان وو، خو په ختيځه اروپا کي، چي د شوروي اتحاد سره يې پولي درلودې؛ د نويو خلقي دولتونو د جوړولو لپاره ښه زمينه برابره وه. تر ۱۹۵۰ کال پوري نوي خلقي دولتونو خپل سياسي او ټولنيز بنسټونه ټينګ کړل او د سوسياليزم پر خوا يې خپل سفر پيل کړ. د ختيځي اروپا د هغه مهال جوړ نوي جوړ سوي سوسياليستي هيوادونه دا وه: رومانيا، هنګري، چکسلواکيا، البانيا، يوګوسلاويا، بلغاريا، پولنډ او ختيځ جرمني.

د سرې جګړې په تشدیدسره، د شوروي اتحاد تر څنګ، د ختیځې اروپا په هیوادونو پسې هم د منفي تبلیغاتو لړۍ پیل سول. امپریالېزم پوري تړلي رسنیو، د ختیځې اروپا هیوادونه [د شوروي اقمار، د شوروي مستعمرې او اشغال سوي هیوادونه] ګڼل، په داسي حال کي چي دغو ټولو هیوادونو خپله پوره، دولتي، سیاسي او اقتصادي خپلواکي درلودل، د لویدیځو هیوادونو ولسمشرانو سفرونه ورته کول (لکه نیسکون چي رومانیا ته ولاړئ) او په ځینو موارداو کي به یې د شوروي اتحاد څرګند مخالفت هم کاوه. د دغو ټولو هیوادونو څخه یوه یې هم شوروي اتحاد ته، د کوم ترون حق العضویت نه ورکوئ (لکه د ناټو غړي هیوادونو چي ورکوئ / ورکوي) او نه یې هم د شوروي اتحاد د جګړو لپاره خیل سرتېري لېږل (لکه د ناټو غړي هیوادونه تراوسه پوري هر ځای د امریکایي امپریالیزم د پیش خدمت دنده ترسره کوي او د یوګوسلاویا، افغانستان، لیبیا، سوریې، یمن، عراق او نورو ټولو هیوادونو په اشغال کي ورسره همکار دي او خیل سرتېري یې ورته استولي دي) خو لویدیځو سیاستوالو او رسنیو د ختیځې اروپا په غم کي ژړاوي کولې او د امریکا د کانګرس د خپاره سوي پرېکړه لیک پر اساس، دا هیوادونه د کمونستانو تر استبداد لاندي «اسیر ملتونه» وګڼل سول. د امریکا ولسمشرانو هر کال یوه اوونۍ د «اسیرو ملتونو» په نوم لمانځل او د هغوی د آزادۍ هیلي یې کولي، خو د ختیځې اروپا خلګو د دوی پر دې هیلي خندل. جالبه ده، چي دوی کله نورو ته د اسیرو ملتونو خطاب کوي؛ ولي یې هغه هیوادونه چي د دوی لخوا مستعمره سوي او اشغال سوي دي؛ په نظر نه ورتلل؟

د هغو اسیرو ملتونو د جملې څخه یو د **پولنډ خلقي جمهوریت** وو. حیرانونکې ده، چي د پولنډ د فولادو دولتي شرکت، په هغه مهال کي د بریتانیا د ټولو فولادو د شرکتونو تر مجموعې لوی وو. د فولادو د تولید اړخه پولنډ، تر متحده ایالاتو یوازي یوه درجه شاته وو. د پولنډ خلقي جمهوریت په نړۍ کي د سکرو څلورم لوی تولیدونکی – په روسیې، امریکا او چین پسې – وو او د معادنو صنایع یې دومره پرمختللي ول، چي خپله متحده ایالاتو ور څخه وپېرل.

**د هنګري خلقي جمهوریت،** په ټوله اروپا کي، د ښاري او مسافر وړونکو بسونو لوی تولیدونکی وو. په ۱۹۷۰ کلونو کي، د سوسیالیستي هنګري بسونه، د امریکا په پورټلنډ او لاس انجلس کي چلېدل. بلغاریا، چي کرنه او اقتصاد یې په پوره ډول سره صنعتي کړي وه؛ اروپا ته د تازه میوو او خوراکي توکو د لویو تولیدونکو څخه وه. **بلغاریا** د بېړیو د لویو جوړونکو او تولیدونکو څخه هم وه او د بلغاریا دولتي شرکتونو د اروپا تر ټولو لویې سوداګریزي بېړۍ تولید او اداره کولې.

**ختیځ جرمني** پر خپلو معیارونو، تر نورو هیوادونو مخکې وو. په ۱۹۷۰ کلونو کې ختیځ جرمني د نړۍ لسم پیاوړی اقتصاد وو، چې د ماهره تخنیکي کارګرانو سره یې د نړۍ په کچه د لوړ کیفیت لرونکي تولیدات درلودل.

**یوګوسلاویا**، د صنعتي اقتصاد په درلودلو سره، د اروپا د لویو اقتصادونو څخه شمېرل کېدئ. **البانیا** د لږ نفوس او لږ مساحت سره، په ختیځه اروپا کې د ژوندانه د لوړ معیار لرونکی هیواد وو او رومانیا د بېړیو، الوتکو او موټرونو د تولید درانه صنایع او د اروپا تر ټولو زیات کاري ځواک درلودی.

د ملګرو ملتونو د شمېرنو له مخې، په ۱۹۷۴ کال کې، چکسلواکیا ۳۰۰۰ ډالر، هنګري ۲۳۰۰ ډالر، پولنډ ۲۰۰۰ ډالر، بلغاریا ۱۶۵۰ ډالر او رومانیا ۱۲۰۰ ډالر سړي سر عاید درلودی، چې ددې پرتله هغه مهال په لویدیځ المان کې ۶۰۰۰ ډالر، په انګلستان کې ۳۶۰۰ ډالر، په ایټالیا کې ۲۷۰۰ ډالر او په هسپانیا کې ۲۲۰۰ ډالره وه. (البته دلته مو پام وي، چې په سوسیالیستي هیوادونو کې سړي سر عاید په مکمل ډول سره، تر یوه فرد پورې رسېږي، خو د پانګوالي نظام د طبقاتي جوړښت له مخې، هیڅکله سړي سر عاید ټولو ته یو شان نه سي رسیدلای، د بېلګې په ډول که په لویدیځ المان کې یو کارګر ۶۰۰۰ ډالره عاید درلودئ، نو د بینز کمپنۍ د یو لوی سهام لرونکي عاید به څو وي؟)

ددې سربېره، د ختیځې اروپا په سوسیالیستي هیوادونو کې روغتیایي خدمات په مکمل ډول سره وړیا وه. د روغتیایي خدماتو ترځنګ، د دوکتورا تر کچې زده کړې وړیا وې او د زده کړو پر مهال، حتی د کتابونو د رانیولو لپاره هم د زده کونکو سره دولتي مرسته کېدل. په همدې ډول، د زده کړو تر پای ته رسولو وروسته، د دندې موندل او د کورنۍ د تشکیل (واده) پر مهال، د کور او هستوګنځی ورکول هم د دولت لخوا د ټولې ټولني لپاره په مکمل ډول تضمین سوي وه. ددا مسایلو ترڅنګ، د خلکو د فرهنګ کچه د لویدیځ د نورو هیوادونو په نسبت ډېره لوړه وه. د ختیځې اروپا په هیوادونو کې فحشاء (جنسي رشوت – د پیسو په بدل کې سکس) قمار، غلاوي، جرایم، قتلونه او نور ټولنیز او اخلاقي انحرافات له ریښې ایستل سوي، یا ډېر لږ او په نه لیدونکي ډول سره وه.

په ۱۹۸۰ کلونو کې را منځته سوی بحران، چې په ۱۹۹۰ کلونو کې، د خیانتونو، کودتاګانو او پانګه والي هیوادونو د نفوذ په واسطه، د سوسیالیستي سیستمونو څخه د آزاد بازار سیستم ته د اوښتون لامل سو. دا پروسه، تر هر څه وړاندې د خصوصي کولو (Privatizations) سره شروع سول. د سوسیالیستي مالکیت لوی صنعتي کمپلیکسونه او فابریکې د امریکا او لویدیځې اروپا څخه ورغلو پانګه والو رانیول. اساسي درانه صنایع چې د پانګه والو ګټه نه ول پکښې؛ د کباړ په بیه خرڅې سولې. د اوبو، برېښنا، کور،

زده کړي او ګازو خدمات او صنایع په کراره سره ټوله خصوصي سولې او د زده کړو، روغتیا او کار اړوند ټول دولتي تضمینونه له منځه ولاړل. ددې سره، یوه پلا د بېکارۍ، انفلاسیون، فقر او لوږي کچه لوړه ولاړل. د دغو ټولو لوټماریو په بدل کې پانګوالی د ختیځې اروپا خلګو ته څه ورکړل؟ لیبراله ډموکراسي! نن ورځ د اروپا پر سړکونو باندې پراته ډېر بیکاره او بې وزلې خلګ د همدغو ختیځې اروپا د هیوادونو دي. په لویدیځه اروپا کې، د ارزانه کار او ارزانه سکس ډېر خدمات (؟) د هماغه ختیځې اروپا ځوان نسل وړاندې کوي. د رومانیا ځوانان د امریکایي شخصي امنیتي کمپنیو اجیران دي، چې ډېر شمېر یې زموږ هیواد ته هم راغلي. د پولنډ ۷۲۰۰ صنعتي فابریکې سقوط سولې.

د ختیځې اروپا په سوسیالیستي هیوادونو کې چې یو مهال یې غوځ اکثریت د زده کړو درلودونکې او مکمل لوستي وو؛ اوس د زده کړو کچه پکښې لږه او په بلغاریا کې د هرو پنځو نویو زیږیدلو میرمنو څخه یوه یې بیسواده ده. همدغسې، هلته د بکارت پلورني مهالني بازارونه هم جوړېږي.

دا د سوسیالیزم څخه پانګوالۍ ته د اوښتون، د تراژیدۍ یو کوچنی اړخ وو. د پخواني شوروي اتحاد هیوادونه هم د سوسیالیزم د نړېدلو څخه ورته ترخې تجربې لري، چې په بالغو خلګو کې یې د هغه مهال، سره رواني او تاریخي ترږاو لا زیات کړی. **ځوان نسل باید، د سوسیالیزم په زرین تاریخ پوري تړل سویو ټولو درواغو او افواهاتو باندې خبر او د خپلو سیاسي او نظري ظرفیتونو په لوړولو سره، د راتلونکې بشري ټولنې د جوړولو لپاره، چې د ټولو انسانانو حیثیت او شرافت پکښې خوندي وي؛ خپله انرژي ولګوي.**

یادونه: په لیکنه کې ارقام، د ښاغلې (کریټ بیري) د مقالې او د صنعتي هیوادونو جغرافیې نومي کتاب څخه اخیستل سوي.

تصویر: په ختیځ جرمني کې د سرتېرو کتابتون!

10-05-2020

http://www.esalat.org/images/Janbaaz_Sharafat-10-05-2020.htm

www.esalat.org